مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولـی ناروغ

۲۰۲۱/۰۱/۱۰

# دغه قام

سپیره دښته کې پروت ډېره دغه قام
تر پولادونه سخت سره دغه قام

نه مرېري نه سرېري نه ماتيږي
ورږي تېږي تر خنجره دغه قام

نه يې دين نه يې آيين پرځان منلی
تر فرعونه فرعون تره دغه قام

هوسيږي تورو خاورو ته تيتيږي
تر آسمانه بالاتره دغه قام

نه په تګ نه په راتګ د نوبهار دی
تر سره ژمی کرخت تره دغه قام

نه ، نه! پام چې خطا نشی په قامونو
دغه يو تر بل بد تره نوم د قام

***

وچه دښته بې ثمره نوم د قام
غوڅ له تنه بې خبره دغه قام

د ماتم تغر يې پروت دی په پيړيو
بې نوروزه بې اختره دغه قام

قرباني د خپل اختر په خپل اختر شي
ترقاتله ، قاتل تره ـ دغه قام

خپلې تورې يو پر بل باندې سرې کا
تر وحشته و حشي تره دغه قام

کتابونه يې نالوستي دي حفظ کړي
دا تر جهله ـ جاهل تره دغه قام


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

چې د سر سړی په کلي کې پیدا شي
ژر یې ورک کړي له محضره دغه قام

د میوند د جگړې پور یې څنگه پرې کړ**!؟**
بې لښکره بې رهبره دغه قام

لکه لښته  چې له بوټې نه څوک پرې کړي
له خپل مرگه بې خبره دغه قام

ولـــی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ